**By: Junior Assistant Professor Abdul Qahar Azizi**
Researcher and Academic member
at Afghanistan Science Academy
and HoD of Private Law Department

# Nikah, Marriage and Circumcision Bylaw; In a Glance

**Abstract**

Afghanistan had the best, meet and applicable laws for getting rid of unfavorable customs in age-old. This has included the various laws' drafting and applying. Amongst these, there was a bylaw developed named "Nikah, marriage and circumcision bylaw" including provision of engagement and avoid unnecessary expenses of marriage. Therewith, this bylaw had symphonious and meet contents of marriage that legalized the marriage and prevent relative disputes.

This paper will begin with the commencement of fiancée and end with the regulations of Ghazi Amanullah Khan reign that applicable on spousal relationship.

**ليکوال: څېړنيار عبدالقهار عزيزي**
د افغانستان د علومو اکاډمۍ علمي غړی
او د خصوصي حقوقو د دېپارټمنټ آمر

## د نکاح، واده او سنتګرۍ نظامنامې ته لنډه کتنه

**لنډيز**

افغانستان له ډېر پخوا راهيسې د هر ډول ناوړو دودونو د مخنيوي په موخه خورا ښه او مناسب قوانين درلودل. له دې ډلې څخه د غازي امان الله خان د واکمنۍ پر مهال بېلابېل قوانين تدوين او نافذ شول. په دې برخه کې د نکاح، واده او سنتګرۍ نظامنامه، هغه قانون و چې د کوژدې اړوند مقررات او احکام يې درلودل او د بې ځايه لګښتونو مخنيوی يې کاوه. ددې ترڅنګ د واده لپاره يې موزون او ضروري مواد لرل چې واده يې قانونمند کاوه او د کورنيزو شخړو او لانجو مخنيوی يې کاوه.

په دې مقاله کې به له کوژدې شروع تر واده او بيا له واده وروسته اړوند مقررات وڅېړل شي چې د غازي امان الله د واکمنۍ پر مهال نافذ و.

**سریزه**

کورنۍ د ټولنې اساس او بنسټ دی. د کورنۍ تشکیل او جوړولو له پاره بنسټ نکاح ګڼل کیږي. له ازدواج څخه کورنۍ تشکیلیږي، توسل او تولد رامنځ‌ته کیږي، شهواني غرایض مشبوع کیږي او ټولنه پراختیا مومي. که کورنۍ سالمه وه، نو ټولنه سالمه او کله چې ټولنه سالمه شوه بیا هېواد د پرمختګ پر لور چټک ګامونه اخلي.

غازي امان الله خان د هېواد د پرمختګ له پاره د سمونونو او اصلاحاتو په درشل کې کورنۍ ته ډېره پاملرنه کړې او د سالمې کورنۍ د رامنځ‌ته کولو په موخه یې یو ځانګړی قانون جوړ کړ چې کورنۍ سالمه، ټولنه اصلاح او د هېواد د پرمختګ پر وړاندې خنډونه له مخې لرې شي.

**د موضوع موخه:** موخه داده چې د هغه وخت نافذه نظامنامه وڅېړل شي او اوسني نسل ته دا واضح شي چې افغانستان سل کاله وړاندې قانونمند او اصولو او مقرراتو ته ژمن نظام درلود. ددې ترڅنګ روښانه شي چې غازي امان الله خان په رښتینې توګه د هېواد د پرمختګ له پاره د کورنۍ له سمون او اصلاح څخه پیل کړی و. د قوانینو په برخه کې د سل کاله وړاندې نوښتونو او ابتکاراتو څېړنه او ورڅخه خبرېدل له مهمو موضوعاتو څخه ګڼل کیږي، په همدې موخه مو وپتېیله چې روښانه کړل شي.

**د موضوع مبرمیت او اهمیت:** دا چې سل کاله وړاندې افغانستان خورا ښه نظام درلود او غوښتل یې چې افغانستان د پرمختګ هسکو پوړیو ته ورسوي، نو اړینه ده چې د هغه وخت نافذه نظامنامه هم تر څېړنې لاندې ونیول شي.

**د څېړنې میتود:** په دې څېړنه کې له توصیفي-تحلیلي میتود څخه ګټه اخیستل شوې.

په دې مقاله کې پر واده یا ازدواج، د نظامنامې پر پېژندلو، د نظامنامې پر موخې، له یوې څخه د ډېرو ښځو په اړه د نظامنامې پر موقف، پر کوژدې، په بدو کې د نجونو په ورکولو، د ښځې په میراث اخیستلو، د کونډې واده ته پر مجبورولو او یا منع کولو، له واده څخه د مخه لګښتونو، د نکاح تړونکي ملا پر اړوند مقرراتو او نورو مهمو موضوعاتو بحث شوی دی. ددې ترڅنګ مقاله د لاس ته‌راغلو پایلو او وړاندیزونو درلودونکې ده چې په مأخذونو پای ته رسیږي.

**لومړی- د نکاح، واده او سنتګرۍ د نظامنامې پېژندنه**

د غازي امان الله خان د واکمنۍ پر مهال نه یوازې لومړنی اساسي قانون (اساسي نظامنامه)، بلکې نور قوانین (نظامنامې) هم تدوین شولې او د تقنیني بهیر د پیاوړتیا په موخه یې بېلابېلې نظامنامې رامنځ‌ته کړې. د نورو قوانینو (نظامنامو) په ډله کې د افغانو ښځو له حقونو څخه د دفاع قانون (نظامنامه) او د کورنۍ مقررات، چې د واده، کوژدې او ولور په برخه کې یې ترتیبات لرل، پاس شول. (۷: ۱۹مخ)

د اعلیحضرت غازي امان الله خان د واکمنۍ پر مهال د نظامنامو د تدوین او جوړولو له پاره یوه جرگه‌گۍ رامنځته کړل شوه چې موخه یې د نظامنامو جوړول و. ښاغلی یوسف هېواد دوست وایي: امان الله خان په لاندې ریفورمونو او بدلونونو لاس پورې کړ.

په هېواد کې د قانون جوړولو جرگه‌گۍ جوړول. دغه شورا یا جرگه‌گۍ د دولت د شورا په نوم یادېدله. دغې جرگې چې نیمایي غړي یې انتخابي او نیمایي یې د پاچا له خوا ټاکل کېدل، په اصل کې ډېرې ارزښتناکې دندې په غاړه درلودې، لکه: د قوانینو (نظامنامو) پرله پسې جوړول او سمون، د دولتي لایحو برابرول، د قانوني پروژو څېړنه او د وزیرانو غوندې له تصویب څخه وروسته د پاچا لاسلیک کولو ته سپارل، د دولت د بودجې سمون او له بهرنیو هېوادو سره د افغانستان د اړیکو، تړونونو او چارو پرمخ وړل. (۱۲: ۲۸۰مخ)

هغه مهال د قانون اصطلاح مروجه نه وه، بلکې د نظامنامې اصطلاح ورته کارېدله. د نکاح او واده له پاره هم یوه نظامنامه «د نکاح، واده او سنتگرۍ نظامنامه» تر سرلیک لاندې د ش. کال د وږي په لومړۍ نېټه تدوین شوه. نوموړې نظامنامې ۲۲ مادې درلودې او د تمیز محکمې د رئیس مولوي عبدالحی په گډون مولوی محمد سید، مولوی عبدالخالق صدیقي دیوبندي، مولوی گلدست او مولوي محمد رفیق له لوري چې د لویې جرگې علماء و، لاسلیک شوې وه. ددې ترڅنگ حکومتي ټاپه پرې هم لگول شوې وه.

که څه هم په دې وروستیو کې د ودونو قانون نافذ شوی دی، خو لا تراوسه په رسمي جریده کې خپور شوی نه دی. ددې ترڅنگ د عدلیې وزارت په وینا د «کورنۍ» په نوم په یوه بل قانون کار کوي چې ښایي د ودونو قانون ځینې مواد ورته شامل کړل شي. په اوسني نافذ قانون کې ولور منع گرځول شوی او په هوټلونو کې د ودونو په تړاو هم ځیني مواد لري. په هوټلونو کې د ودونو په تړاو وايي چې له ۵۰۰ ډېر مېلمانه نه وي او د خوراک بیه له ۴۰۰ افغانیو ډېرېدای نه شي. په هر حال تر دې مهاله د واده قانون په اړه هیڅ څرک نه لیدل کیږي او د بي بي سي راډیو د راپور له مخې لا تراوسه د عدلیې وزارت په وېبپاڼه کې خپور شوی هم نه دی، خو په رسمي جریده کې چاپ او نافذ دی. (۶: بي بي سي)

وړاندې تر دې چې د نوموړې نظامنامې اصول او مقررات تر بحث لاندې ونیسو، لومړی ازدواج تعریفوو:

**دوهم- ازدواج**

ازدواج هغه عقد دی چې شارع او مقنن ددې له‌پاره وضع کړی چې د زوجینو ترمنځ د ښځې او مېړه توب اړیکو څخه استفاده او استمتاع په مشروع ډول رامنځ‌ته کړي او د هغوی ترمنځ متقابل حقوق او وجایب مقرر او معین کړي. (۱۱: ۹مخ)

په پورته تعریف کې دوه خبرې ذکر شوي دي: لومړی؛ نکاح هغه عقد دی چې د ښځې او مېړه ترمنځ له یوه بل څخه استفاده مشروع کوي او د استمتاع حق ورکوي. دوهم؛ د متقابلو حقوقو د ټاکلو او معینولو مسئله ده. د

متقابلو حقوقو په تړاو چې ښځه او مېړه پر یو بل کوم حقوق لري، د واده او نکاح له امله رامنځته کیږي. خو د نسب او تولد او تناسل مسئله، همدارنګه د کورنۍ جوړول هغه اساسي موخې دي چې ازدواج یې له امله مشروع او روا ګڼل شوی دی، خو په پورته تعریف کې په دې اړه کوم څه نه دي ذکر شوي.

د افغانستان د ۱۳۵۵ لمریز کال مدني قانون ۶۰مې مادې نکاح د ازدواج تر نوم لاندې دا ډول تعریف کړې ده: ازدواج یو عقد دی چې د ښځې او سړي معاشرت یې د فامیل د تشکیلولو په مقصد مشروع کړی او د دواړو خواوو حقوق او واجبات تنظیموي. (۵: ۶۰مه ماده)

په پورته تعریف کې بیا درېواړه نقطې په پام کې نیول شوي دي چې هم د ازدواج له دواړو لوریو څخه مشروع ګټه‌اخیستل، فامیل یا کورنۍ تشکیلول او ترڅنګ یې د دواړو لورو حقوق او واجبات دي؛ بحث ورباندې شوی دی.

**دریم- د نکاح، واده اوسنتګرۍ د نظامنامې موخه**

په ۱۹۲۱م. کال کې د کورنۍ په نوم یو ډېر مهم قانوني اقدام ترسره شو او هغه دا چې د واده او نامزدۍ تر نامه لاندې مقرره (نظامنامه) ترلاس لاندې ونیول شوه. پخوا د امیر عبدالرحمن او امیر حبیب الله خان له خوا ځیني اقدامات شوي وو، خو د امان الله خان اقدامات ستر او هر اړخیز وو. په ماشومتوب کې واده کول او له نږدې اقاربو سره واده کول، د اسلام له اصولو څخه مغایر وګڼل شول. په نوې اصولنامه (نظامنامه) کې کونډه د مېړه د اقاربو له سلطې څخه ازاده وبلل شوه. نوموړې د خپل پلار مثال تعقیب کړ، د واده په مراسمو کې په لګښت لکه ولور باندې سخته پابندي ولګېده. دغه راز یې د ښځې حق د واده په برخه کې د اپیل یا استیناف له پاره په محکمه کې تثبیت کړ چې که چېرې مېړه په اسلامي اصولو باندې پابند نه وي، د خپل حق غوښتنه کولی شي. (۱۰: ۲۱۷مخ)

د نظامنامې موخه د هغې له سریزې څرګندیږي. په سریزه کې، که څه هم د موخې یا هدف تر سرلیک لاندې په څرګنده څه نه دي لیکل شوي، خو له متن او منځپانګې یې ښکاري چې د نظامنامې موخه تشکیلوي. لکه څرنګه چې افغاني ټولنه کې دا بیخي څرګنده او روښانه خبره ده چې د کورنیو ترمنځ ډېرې شخړې او لانجې د کورنیو اړیکو پر سر رامنځته کیږي او لویه برخه یې د ښځې او مېړه کورنیو ته د واده له اړوند لګښتونو له امله ورګرځي، نو په همدې خاطر غازي امان الله خان پتیېلې وه چې د ټولنې دا اساسي او بنسټیزه برخه دې له شخړو او تاوتریخوالي پرته ژوند وکړي. له بل لوري کورنۍ د ټولنې اساس دی، که سالمه وه، ټولنه سالمه ده او برعکس؛ نو په همدې موخه یې د ټولنې د سلامتیا په موخه یاده نظامنامه تدوین کړه.

د نظامنامې موخه د هغې په مقدمه کې ښه روښانه کیږي: دا چې ډېرې شخړې د نکاح او واده د اړوندو معاملاتو له لګښتونو او د ښځو په حق کې د مېړونو له ظلم او تېري څخه راپېښېږي، نو د ظلم د له منځه وړلو،

د شخړو د هواري او د ښځو د حقوقو د برابرۍ له پاره چې له اسلامي شریعت سره مطابقت او حنفي مذهب سره سمون لري، لاندې قواعد رامنځ‌ته کوو. (۴: مقدمه)

**څلورم- له یوې څخه د ډېرو ښځو په اړه د نظامنامې موقف**

اسلام یوه نارینه ته په یوه وخت کې تر څلورو ښځو نکاح جواز ورکړی دی او د خپلې خوښې مطابق کولای شي چې یوه، دوه، درې یا څلور ښځې په نکاح کې کړي، مګر دا حق یې مطلق نه دی ګرځولی، بلکې قیود او شروط یې ورته اېښي دي او «عدالت» یې تر ټولو لازم او مهم اصل ګڼلی دی. که کوم نارینه د ټولو ښځو ترمنځ عدالت قایمولی شي، نو بیا دې له یوې څخه ډېرې ښځې په نکاح کړي. په دې اړه الله تعالی په خپل سپېڅلي کلام کې فرمایي:

وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَىٰ فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَىٰ وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ ۖ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ۚ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰ أَلَّا تَعُولُوا (النساء: ۳)

ژباړه: او که ویرېږئ، تاسې چې به ونه کړای شئ عدل انصاف په (حق د) یتیمانو کې نو په نکاح سره واخلئ تاسې (نورې) هغې ښځې چې خوښې (حلالې) وي تاسو ته له ښځو دوه او درې او څلور، نو (بیا که) ویرېږئ تاسې چې عدل (انصاف برابري) به ونه کړای شئ (د ښځو په منځ کې په نفقه، نوبت او نورو کې) نو یوه (اصیله کوئ) یا هغه وینځې چه مالکان شوي دي د هغو (وینځو) ښي لاسونه ستاسې (تاسې یې مالکان یئ). دا (نکاح د یوې اصیلې د ډېرو وینځو) ښه نږدې ده دې ته چې ظلم ونه کړئ تاسې (او یو جانب ته متمائل نشئ تاسې!) (۲: ۴۲۸-۴۲۶مخونه)

دلته په عدالت تاکید شوی او له یوې څخه د ډېرو نکاحو له پاره یې بنسټیز اصل ګڼلی دی. د نظامنامې په لومړۍ ماده کې هم د همدې عدالت اصل ته ګوته نیول شوې او پورته ذکر شوی آیت کریمه یې د دلیل په توګه راوړی دی. وروسته بیا داسې دوام ورکوي: فلهذا په دې صورت کې هر مسلمان چې د څښتن تعالی د امر خلاف وکړي، د دواړو جهانونو د تاوان لامل به یې شي، په همدې بنسټ د حضرت حق جل علی شانه د قرار پر بنسټ امر کوو، ای زما رښتینی رعیته! پورته حکم ته ژمن اوسئ که تاسو عدالت کولای شئ، نو دوه ښځې یا درې ښځې یا څلور ښځې وکړئ، او که عدالت نشئ کولای، نو یوه ښځه درته بسنه کوي، ځکه له عدالت پرته د دوه ښځو لرل ډېره ګناه لري. (۴: ۱ ماده).

په پورته ماده کې افغان وګړو ته په هغه صورت کې له یوې څخه د ډېرو ښځو جواز ورکړل شوی و، چې عدالت یې ترمنځ کولای شوای. که به چا له یوې څخه ډېرې ښځې درلودې او عدالت یې ترمنځ نه کاوه نو بیا

محکمې نوموړی کس په تعزیري مجازاتو[1] محکوماوه. ددې ترڅنګ که مېړه د دا ډول ښځو محکمې ته له تګ څخه خنډ واقع کېده، هغه کس هم مجازات کېده، د نظامنامې دوهمه ماده په دې اړه وايي: هغه کسان چې دوه یا درې یا څلور ښځې ولري او یا یې اوس په نکاح کړي، د اسلامي شریعت مطابق عدل او مساوات ونه کړي او محکمې ته خبر ورسیږي، له ثابتېدو وروسته په تعزیري مجازاتو محکومیږي. او هغه کسان چې په پورته ذکر شوي عدل او مساوات سربېره، په زور او شدت سره د دا ډول عارضو ښځو محکمو ته د تګ خنډ وګرځي یا یې ولي په زور او شدت سره د عارضو ښځو مانع وګرځي، په تعزیري ډول په جزا محکومیږي (۴: ۲ماده).

دلته یو څه چې ګونګ دي، هغه د تعزیري مجازاتو اندازه ده، ددې ترڅنګ د عدل او مساوات اندازه هم له امکانه لرې ده چې اندازه دې کړای شي. دا چې له عدالت او برابرۍ څخه کومې برخې سرغړونه وګڼل شي او تر کومې کچې سرغړونه نه ده او څرنګه به ثابتیږي، روښانه نه ده او ګونګه پاتې ده. ددې ترڅنګ چې په یو چا تر کومې کچې تعزیري مجازات وضع کیږي، کوم ځانګړی حد یې ورته نه دی ټاکلیو بلکې قضات یې خلاص لاس پریښي ترڅو د خپلې خوښې تعزیري مجازات پلې کړي.

ویل کیږي چې د غازي امان خان د واکمنۍ پرمهال له یوې څخه د ډېرو ښځو په لرونکو باندې مالیه وضع شوې وه. محمد اکبر کرګر په خپله مقاله کې دې موضوع ته اشاره کړې ده: د امان الله خان په دوره کې د واده قانون (نظامنامه) یا د نکاح نظامنامه (هماغه د نکاح، واده او سنتګرۍ نظامنامه) تدوین شوه چې د یوې ښځې لرل یې هڅول او د دوهمې ښځې لپاره یې قید او مالیه ټاکلې وه. د نکاح‌نامې لرل یې د واده لومړنی شرط باله چې دا مسایل له اسلامي قانون سره دومره هماهنګ نه و. (۱۰: ۲۱۹مخ)

ددې ترڅنګ ښاغلی محمد اکرم عثمان هم په خپله مقاله کې له یوې څخه د ډېرو ښځو په لرونکو اشخاصو باندې دولتي مالیې ایښودلو ته اشاره کوي، خو په نظامنامه کې د نقدي مجازاتو یا دا ډول مالیې په اړه کومه یادونه نه وه شوې. نوموړی وايي: او له هغو سره به ځانګړې مالیه اخیستل کېده، چا به چې له یوې څخه ډېرې ښځې درلودې. په دې ډول چې یو سړی به د دوهمې، دریمې او څلورمې ښځې په خاطر مجبور و چې دولت ته یوه اندازه پیسې ورکړي. د نوموړې مقررې (نظامنامې) وضع کول له یوې څخه د ډېرو ښځو د نکاح په مخنیوي کې اغېزمن واقع شول او ډېرو سړیو د مالیاتو له وېرې په یوې ښځې بسنه وکړه. په لنډ ډول نوموړي قانون (نظامنامې) د ښځو د ملاتړ په برخه کې لاندې مواد درلودل:

الف: د نکاح د تړون څرنګوالی، د مهر ورکړه له حکومتي اوامرو سره سم، په نکاح‌پاڼه کې ذکر کېده؛

ب: د منقول مال په توګه د ښځو په میراث وړل ممنوع شول؛

---

[1] تعزیري مجازات، له حدودو او قصاص پرته جرایمو له پاره جزاګانې د تعزیري جزاګانو په نوم یادیږي. فقهاوو د نوموړو مجازاتو واک اسلامي حاکم ته ورکړی دی.

ج: د ښځو له لوري د طلاق غوښتنه روا وبلل شوه [2] او له طلاق وروسته ښځې بل مېړه کولای شو؛

د: د اړخونو له خوښې پرته ازدواج ممنوع شو. (۸: ۱۱۶مخ)

د صغيرې نکاح په حنفي فقه کې د ولي په امر جواز لري او کوم ممانعت نه دی اينبودل شوی، خو له بلوغ وروسته بيا دواړه لوري حق لري چې يا نکاح قبوله او يا يې هم رد کړي. دې مسئلې ته په نظامنامه کې ځای ورکړی شوی او دريمه ماده يې وايي: د صغارت د وخت نکاح له بلوغ وړاندې جواز لري. (۴: ۳ماده) مګر د مادې له وروستي متن څخه داسې ښکاري چې له دې نظامنامې وړاندې د صغيرانو نکاح ممنوع ګرځول شوې وه. په نظامنامه کې وروسته بيا وايي، لکه څرنګه چې د صغيرانو نکاح ستاسو ترمنځ د شخړو او لانجو لامل ګرځي نو په همدې خاطر مې موقوفه وګرځوله. له دې متن څخه داسې بريښي چې ګواکې امان الله خان په لومړي سر کې د صغيرانو نکاح ممنوع ګرځولې وه، خو ښايي د عام ولس له غبرګون سره مخامخ شوې وي، او بېرته يې خپله پرېکړه اخيستې او دا ډول نکاح ته يې جواز ورکړی دی. ددې ترڅنګ ډاکټر محمد اکرم عثمان په خپله مقاله کې دې موضوع ته داسې اشاره کړې ده: همدارنګه د نوموړي (غازي امان الله خان) په هڅو له نابالغې جنۍ سره واده ممنوع شو (۸: ۱۱۵مخ). وروسته بيا په لمنليک کې کاږي: دا قانون په ۱۹۲۴م. کال کې له منځه ولاړ ځکه روحانيونو او ښي لاسو، امير تر فشار لاندې راوستی و. (۸: لمنليک، ۱۱۵مخ)

## پنځم- کوژده

د افغانستان مدني قانون کوژده د نکاح ژمنه ګڼي او دواړو لوريو ته يې دا حق ورکړی دی چې کولای شي له واده وړاندې له خپلې ژمنې لاس په سر شي. کوژده د ازدواج له وعدې څخه عبارت ده، د عقد دواړه خواوې کولی شي چې ورڅخه منصرف شي. (۵: ۶۴مه ماده).

کوژده په نظامنامه کې تر بحث لاندې نيول شوې وه، خو کوم ځانګړی تعريف يې ورته نه درلود. د کوژدې په اړه په نظامنامه کې ځينې مقررات وضع شوي وو چې کوژده يې قانوني ګرځولې وه او د ډېرو لګښتونو د مخنيوي په موخه يې حدود او قيود ټاکلي وو. د نظامنامې څلورمه ماده په عمومي ډول د کوژدې په اړه ده او د شيرين خورۍ نوم يې ورکړی دی. ورپسې په همدې ماده کې د نکريزو شپې يادونه شوې ده چې ځيني قيدونه يې ددې شپې له پاره وضع کړي دي. ښه به وي چې دا ماده رانقل کړو: په عمومي ډول داسې دود دی چې لومړی

[2] د نظامنامې په متن کې په دې ډول کوم څه نه وو ذکر شوي، څرګنده نه ده چې ډاکټر محمد اکرم عثمان دا معلومات له کومه کړي.

خوږه کاسه ترسره کیږي او دا د کوژدې په نوم بلل کیږي. له څه مودې وروسته یې یوه شپه د نکریزو شپې په نوم ټاکله او د هغې شپې په سبا به خلک راټولېدل او نکاح به یې تړله. په دې ډول لومړۍ؛ دواړو لوریو ته سختې پېښېدله، دوهم؛ بې ځایه ښندنه کېدله او دریم؛ شخړو او دعواوو ته خبره رسېدله، نو پر همدې بنسټ خوږه کاسه چې د کوژدې په نوم بلل کیږي په مطلق ډول مو منع کړه، یعنې هر څوک چې د وصلت خیال لري، لومړۍ دې د دواړو لوریو خپلوان د ښځې او نارینه په خوښه خپلمنځي خبرې وکړي او وصلت دې ترسره کړي، په همدې ډول په خوږه کاسه کې چې له یو څو نږدې خپلوانو او نکاح تړونکي ملا امام او شاهدانو پرته بل څوک ورکې شتون نه لري، بل ډول نکاح مطلقه بنده ده. دا چې نکاح له پورته امر کړای شوې قاعدې سره سمه وتړل شوه، که منکوحه بالغه وه سم له واره دې یې واده وشي او له مهر اخیستو وروسته دې سمدلاسه ناکح ته وسپارل شي او که بالغه نه وه، نو جواز لري چې منکوحه دې د ولي یا وصي په کاله کې واوسي، هر وخت چې دواړه لوري راضي شول، واده دې په ښه او خوښ ډول وکړي، چې په وصلت کې رغبت او په اولاد کې برکت ومومي. (۴: ۴ ماده)

**شپږم- په بدو کې ورکول**

په افغاني کلتور کې ناوړه دود په بدو کې د جلۍ ورکول دي. دا چاره له عدالته ډېره لرې ده چې جرم هلک کړی وي، خو مجازات یې خور یا لور ګالي. اسلام له ډېر پخوا راهیسې د مجازاتو د شخصي‌والي اصل ته پاملرنه کړې او پلي کول یې حتمي دي. څښتن تعالی فرمايي: قُلْ أَ غَيْرَ اللّهِ أَبْغى رَبّاً وَ هُوَ رَبُّ كُلِّ شَيْءٍ وَ لاتَكْسِبُ كُلُّ نَفْس إِلاّ عَلَيْها **وَ لاتَزِرُ وازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرى** ثُمَّ إِلى رَبِّكُمْ مَرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُمْ بِما كُنْتُمْ فيهِ تَخْتَلِفُونَ (الانعام: ۱۶۴) ژباړه: او کسب نه کوي (د بدۍ) هیڅ یو نفس مګر (ضرر یې دی) پر (ذمه د) ده، **او نه باروي هیڅ نفس ګنهګار ګناه د بل نفس (بلکې هر څوک خپل بار وړي)**، بیا خاص طرف د رب ستاسې ته بېرته ورتلل ستاسې دي (په قیامت کښې) نو خبر به کړي تاسې په هغه شي چې وئ تاسې چې په هغه کې به مو اختلاف کاوه (په دنیا کې په دیني امورو کې). (۲: ۸۴۰مخ) په پورته آیة شریف کې په څرګنده د جرم شخصي والي پرنسیپ تر سترګو کیږي. په دې معنی چې هر څوک د خپلو اعمالو مسئول دی. که جرم هر کس کړی وي، باید په خپله هغه مجازات کړل شي او بل څوک یې پر ځای مجرم ونه ګڼل شي او مجازات ورنه کړل شي.

دغه راز د افغانستان جزا کوډ هم نوموړی اصل منلی او په خپله نهمه ماده کې یې د جرم او جزا د شخصي والي پرنسیپ د یوه اصل په توګه ذکر کړی دی. په دغه ماده کې لیکل شوي دي: جرم شخصي عمل دی او پر هغه مرتبه جزا بل شخص ته سرایت نه کوي (۳: ۹مه ماده)

ددې ترڅنګ په انساني ټولنه کې له انسانیت لرې چاره ګڼل کیږي او په بده سترګه ورته لیدل کیږي. انسان تر خپلې وسې باید د دا ډول چارو د مخنیوي او له منځه وړلو هڅه وکړي او اوسمهال دا ناوړه دود په افغاني ټولنه کې په ورکېدو دی.

په اماني دور کې نورو ناخوالو ته د پام او له منځه وړلو تر څنګ دا ناوړه دود هم په پام کې نیول شوی و، چې باید له منځه یووړل شي. د نظامنامې په شپږمه ماده کې په کلک ډول د دې عمل مخنیوی شوی و او ممنوع ګرځول شوی و چې په بدو کې د نجونو یا ښځو ورکول ناوړه عمل دی. «په بدو کې ورکولو دود یا په جبر او زور سره د ښځې په میراث وړل او خپل شخصي عیال ګڼل په مطلق ډول منع او موقوف دي». (۴: شپږمه ماده)

**اووم- د ښځې په میراث وړل**

له بده مرغه د نورو ناوړو دودونو ترڅنګ دا فکر هم شته چې ښځه په میراث وړل کیږي. ځینې وختونه مېرمنې ته د شخصي مال په سترګه کتل کیږي او آن له انسانیته یې لرې ګڼي. د غازي امان الله خان د واکمنۍ پر مهال د دې ناوړه دودونو د له منځه وړلو له پاره په کلکه مبارزه کېده او په نکاح، واده او سنتګرۍ نظامنامه کې یې ځای ورکړی و. د نظامنامې شپږمې مادې په زور سره د ښځې په میراث وړل او په شخصي ډول خپله موروثه ګڼل ممنوع او موقوف ګرځولي و. «...یا په جبر او زور سره د ښځې په میراث وړل او خپل شخصي عیال ګڼل په مطلق ډول منع او موقوف دي». (۴: شپږمه ماده)

ددې ترڅنګ یو بل ناوړه دود هم شته چې کونډه باید حتماً د خپل مېړه د کورنۍ یو غړی په نکاح کړي او د ملکیت په سترګه ورته کتل کېدل، له نېکه مرغه په اماني دور کې د کونډو په میراث وړل او په جبر سره نکاح ته مجبورول منع کړای شوي و او چا نه شو کولای چې کونډه له مېړه یا بل واده کولو څخه منع کړي. په اوومه ماده کې وایي «کونډه او مطلقه (طلاقه کړای شوې) ښځه دې څوک له مېړه کولو په وېرې او ډارولو منع نه کړي». (۴: ۷ ماده)

**اتم- له واده څخه وړاندې لګښتونه**

ځینې رواجونه له واده وړاندې په ناوې او زلمي باندې یو لړ مصارف او تحمیلي بوجونه وي. د بېلګې په توګه هلک مجبور دی چې په اخترونو یا نورو ځانګړو ورځو کې د کوژدنې کور ته ځینې سوغاتونه یوسي یا د ناوې کورنۍ باید هلک ته په ځینو ځانګړو مراسمو کې مېلمستیا وکړي. دا او دې ته ورته دودونه ځیني وختونه د ملاماتونکو لګښتونو لامل ګرځي چې د دواړو کورنیو له پاره ستونزمنه وي، له واده وړاندې دغه ډول لګښتونه په خپله غاړه واخلي.

اماني حکومت هم دا ډول ستونزې او ملاماتونکي دودونه په پام کې نیولي او د له منځه وړلو له پاره یې په نظامنامه کې یو لړ مقررات وضع کړي وو چې ځینې دلته روښانه کوو.

**۱- براتی او اختری:** براتی هغه ډالۍ او سوغاتونه دي چې د هلک کورنۍ یې له روژې څخه مخکې میاشت کې د جنۍ کورنۍ ته وړي او وایي چې دا د جنۍ برخه ده. اختری بیا د اختر په شپو ورځو کې د هلک کورنۍ/هلک د جنۍ کورنۍ/جنۍ ته وړي او په کې ځینې سوغاتونه او وچې او تازه مېوې شاملې دي. نظامنامې براتی او اختری منع کړی و او زلمی مکلف نه و چې د ناوې یا خپلې کوژدنې کور ته دې د برات او اختر ډالۍ یوسي. په اتمه ماده کې دا دود ممنوع ګڼل شوی و. نوموړې ماده وایي «اختری او براتی چې د یوه دود په توګه د ناوې کور ته وړل کېدل، موقوف دي» (۴: ۸ ماده)

**۲- د کوژدې د ورځې خوږه:** ځینې وختونه د نکاح عقد پرمهال شیریني یا خوږه وېشله کیږي. اوسمهال په ځینو سیمو کې د چاکلیټو پاکټونه د هلک د کورنۍ له لوري د جنۍ کورنۍ ته وړل کیږي او د جنۍ کورنۍ یې په خلکو وېشي. له پخوا هم دا دود و، خو د ځینو کورنیو له پاره له اقتصادي پلوه ستونزمنه وي چې دا ډول لګښتونه دې ترسره کړي. په همدې موخه په نظامنامه کې ورته ځای ورکړل شوی او ټاکلی حد یې ورته تعیین کړی و. هغه مهال په نظامنامه کې دا ډول خوږه یا شیریني له نیم څخه تر یوه چارک مېوې یا نقل پورې ټاکل شوې وه او د هلک کورنۍ نه شو کولای چې له یو چارک څخه ډېره مېوه یا نقل د جنۍ کورنۍ ته یوسي. د نظامنامې لسمه ماده وایي «د نکاح عقد شیریني (خوږه) له نیم چارک څخه تر یو چارک نقل یا مېوې زیاتېدای نشي». (۴: ۱۰ماده)

**۳- مهر:** مهر یوه اندازه مال یا پیسې دي چې د نکاح په بدل کې یې هلک/د هلک کورنۍ جنۍ ته ورکوي. استاد عبدالقادر عتدالتخواه په خپل اثر «حقوق فامیل» کې مهر دا ډول تعریفوي: مهر عربي کلمه ده او فارسي معادل یې کابین دی. په عربي ژبه کې د مهر نورې مترادفې کلمې هم شته چې د مهر معنی ورکوي. دا کلمې د صداق، فریضې او اجر په نومونو په قرانکریم کې ذکر شوي دي. په اصطلاح کې مهر له هغه مال څخه عبارت دی چې د مېړه له لوري ښځې ته په عاجله یا مؤجله توګه هغه وخت لازمیږي چې ښځه یې د صحیح نکاح او یا حقیقي مدخول لاندې راشي. (۹: ۹، ۱۰مخونه) په نظامنامه کې د مهر اندازه هم ټاکل شوې وه چې د کوژدې یا واده پر مهال د هلک کورنۍ ډېر زیان ونه ویني. د نظامنامې په ۱۱مه ماده کې په دې اړه داسې راغلي دي «د ټولو طبقو مهر په عمومي ډول له دېرش روپیو نشي زیاتېدای. شیربها، ولور، قلین او طویانه په هیڅ صورت نه اخیستل کیږي». (۴: ۱۱ماده)

په پورته ماده کې د مهر پر ټاکلې حد سربېره څلور څیزونه هم ذکر شوي دي. شیربهاء له قلین او ولور سره معادل دی چې د جنۍ کورنۍ ته د هلک کورنۍ له لوري ورکول کیږي. ولور چې معمولاً وګړي یې د مهر معادل ګڼي، خو له مهر سره یې توپیر په دې کې دی چې مهر د نکاح پر مهال ټاکل کیږي او مطلق د جنۍ حق دی، په داسې حال کې چې ولور بیا له واده او نکاح دمخه ټاکل کیږي او د جنۍ د کورنۍ مشر یې اخلي چې ځیني کورنۍ

یې لګوي (مصرفوي) او ځینې نورې کورنۍ یې بیا خپل حق ګڼي. ددې ترڅنګ طویانه هم ذکر شوې ده. طویانه هغه مصارف دي چې د واده پرمهال یې د هلک کورنۍ د جنۍ کورنۍ ته ورکوي. په پښتو کې یې معادل «خوره» ده چې د غازي امان الله خان د واکمنۍ پرمهال منع ګرځول شوې وه. دا هغه څه و چې زیاتره افغانان د ودونو پرمهال تاواني کېدل، نو له همدې امله غازي امان الله خان په ټولنه کې د ارامۍ او سوکالۍ په موخه او ددې له پاره چې افغاني ټولنه په هر اړخیز ډول پرمختګ وکړي، دا برخې د نظامنامې په ۱۱مه ماده کې شاملې کړې.

**۴- د ناوې جوړې:** د ناوې جوړې یا کالي پر هلک/ د هلک پر کورنۍ دي. یعنې هر څوک چې غواړي واده وکړي، باید خپلې چنغلې/کوژدنې ته د نورو لګښتونو ترڅنګ جامې او لباسونه هم ویېري. د ناوې او واده جوړې یا کالي هم هغه څه و چې په نظامنامه کې ورته ځای ورکړل شوی و چې تر ممکنه بریده ودونه اسانه کړي او د دښمنیو مخنیوی وشي. په دې اړه د نظامنامې په دولسمه ماده کې راغلي دي: هغه لباس چې ناکح یې منکوحې ته ورکوي په لاندې ډول دی:-

**لومړی**- بډایه وګړي؛ څلور جوړه کامله وریښمیني، څلور جوړه کاملې پشمي او نخي؛

**دوهم**- متوسط وګړي؛ درې جوړه کامله وریښمیني او درې جوړه پشمي او نخي؛

**دریم**- غریب وګړي؛ درې جوړه کامله پشمي او نخي؛

**څلورم**- کومې جامې چې ناکح یې منکوحې ته ورکوي، باید له پورته اندازې څخه ډېرې نه وي، خو د عاقدینو د بېوزلۍ په صورت کې کمېدای هم شي. (۴: ۱۲مه ماده)

په پورته ماده کې د زوم له لوري ناوې ته د جامو او کالیو ټاکلی حد ددې ښودنه کوي چې غازي امان الله نه غوښتل بې ځایه مصارف وشي او په راتلونکې کې هلک او جنۍ له خوښۍ ډک ژوند ولري. که فکر وکړو په اکثرو سیمو کې له واده دمخه ډېر لګښتونه کیږي چې خورا ملا ماتوونکي وي او دا لګښتونه وروسته بیا د هلک په کورنۍ لوی پیټی وي چې د ژوند کولو پرځای بیا خبره لانجو او شخړو ته ووځي او ځیني کورنۍ له واده وروسته ګټلې پیسې د سوکاله او هوسا ژوند پرځای، د اخیستو پورونو پر اداء کولو باندې لګوي او نسبتاً سوکاله او له خوښۍ ډک ژوند نه لري.

ددې ترڅنګ د ناوې کورنۍ هم هلک ته ځینې جامې او نورې ډالۍ یا جهیز اخلي چې دا دود هم له پخوا راهیسې رواج لري. په نظامنامه کې دا ډول لګښتونه او ډالۍ هم ممنوع شوې وې او هر ډول ټوټه (جامې) چې زوم ته د خسرګنۍ له لوري ورکول کیږي، قطعاً باید ورنه کړل شي. ښه به وي چې په دې اړه د نظامنامې ۱۳مه ماده رانقل کړو «د زوم ټوټه یا رخت چې د ناوې‌خېلو له لوري ورکول کیږي، قطعاً دې ورنکړل شي». (۴: ۱۳ماده)

**۵- جهیز:** جهیز د کور سامانونه دي چې جنۍ یې د واده پرمهال د پلار له کوره د مېړه کورته له ځانه سره وړي.

اسلامي شريعت مهر د ښځې شخصيت د لا ډېر احترام او له هر ډول ابتذال څخه د خوندي کولو او د ازدواج محل د شرف په موخه پر مېړه لازمي ګرځولی دی، نه د جهيز يا هغه سامان په مقابل کې چې ښځه يې د مېړه کورته له ځان سره وړي. په دې ډول، د ښځې له لوري د هغې د مهر په پيسو يا يې د پلار له لوري د نور مال په واسطه د زوجيت کور د تجهيز په تړاو کوم شرعي دليل نه شته؛ په پايله کې نه ښځه د مېړه کور د جهيز په ورکړه يا تجهيزولو مکلفه ده او نه يې هم پلار يا نور اولياء. برعکس، د ټولو لوازمو او اړتياوو ترڅنګ د کور جوړول او تجهيزول د زوجيت د نفقې د يوې برخې په توګه، د مېړه شرعي وجيبې او مکلفيتونه ګڼل کيږي. (١١: ٢٠١مخ)

په هر حال لکه څنګه چې پورته واضح شول، جهيز د ښځې يا د هغې د کورنۍ مکلفيت او وجيبه نه ده، بلکې د شريعت مطابق بايد د مېړه کور دا ډول جهيز په خپله غاړه واخلي، ځکه هم جنۍ دده کورته راځي او هم يې سامان. خو بيا هم، ځيني کورنۍ د خپلوۍ لا ټينګولو په موخه او دا چې د هلک کورنۍ/هلک سره يې د کورسامان په رانيولو کې مرسته کړي وي او لور يې هم بېنوا نه وي پريښې، د واده پر مهال يو لړ سامانونه او لوازم له جنۍ سره يو ځای د هلک کور ته استوي. دا کومه جبري چاره نه ده، بلکې د ناوې کورنۍ يې په خپله خوښه د زوم کورنۍ ته ورکوي. خو له بده مرغه، دا چاره هم په افغاني ټولنه کې اوس مهال په يوه دود او رواج بدله شوې او ځيني وختونه د جنۍ کورنۍ په ناچارۍ بايد خپلې لور ته د کور سامان او لوازم وپېري چې ښايي بېوزلو کورنيو ته ستونزمنه وي. دا دود پخوا هم موجود و او د غازي امان الله خان له لوري د کورنۍ د پياوړي کولو او بې ځايه لګښتونو د مخنيوي په موخه په نظامنامه کې ځای ورکړل شوی و.

د جهيز په اړه د نظامنامې ١۴مه ماده صراحت لري او وايي که ناوې د پلار يا مور يا د ولي له کور څخه کوم جهيز وړي يا يې ورته ورکوي، دا ريا او ځانښودنه ده چې د ناوې کورنۍ له دې امله ځانښودنه کوي. ځانښودنه او ريا په اسلام کې منع شوې او هر هغه عمل چې ريا يا ځانښودنه په کې وي، د الله تعالی په حضور کې نه قبليږي. د ناوې کورنۍ چې کوم جهيز خپلې لور ته اخلي، له نورو خپلوانو سره د سيالۍ پر بنسټ يې اخلي چې دا چاره بيا ځانښودنه ګڼل کيږي، نو د واده پر مهال دا ډول جهيز هم منع وګڼل شو. مګر له واده وروسته که مور يا پلار وغواړي چې خپلې لور ته کوم څه واخلي يا ورکړي، کوم ممانعت په کې نه و.

دلته بايد يادونه وکړو چې دا لګښتونه او حدود له واده څخه دمخه او د واده پر مهال ټاکل شوي وو. مګر هغه لګښتونه، ډالۍ، تحايف او سوغاتونه چې هلک يا يې کورنۍ خپلې ناوې ته په خپل کور کې ورډالۍ کوي، کوم ممانعت ورباندې نه و وضع شوی. دا حکم د نظامنامې په ١۵ ماده کې ذکر شوی و.

**نهم- د نکاح تړونکي ملا اړوند مقررات**

په اسلام کې نکاح او ځيني نور مهم مراسم د ملا له لوري پر مخ وړل کيږي. ملا يا عالم له ديني پلوه هر وخت له ورته مسايلو سره سر او کار لري او په ښه ډول يې ترسره کوي. نکاح هم د ملا له لوري ترل کيږي او خطبه يې لولي. په همدې منظور د نکاح، واده او سنتګرۍ په نظامنامه کې ورته ځيني مقررات وضع شوي و.

تر ټولو دمخه په نظامنامه کې د ملا امام له پاره د پيسو اندازه په پام کې نيول شوې وه. ملا ته له نکاح ترلو وروسته يوه اندازه پيسې او ډالۍ ورکول کيږي چې په ځينو سيمو کې بيا دا چاره هم په دروند پيټي بدله شوې ده. ددې له پاره چې وګړي ټول يوه اندازه او د يوه انټروال ترمنځ ملا ته ټاکلې اندازه پيسې ورکړي، نو مقررات يې ورته وضع کړل. په نظامنامه کې د ملا له پاره له ۵ تر ۲۰ روپيو حد ټاکل شوی و او له دې ډېرو ورکول جواز نه درلود. د يادې نظامنامې ۱۷مه ماده کې داسې راغلي: د نکاح تړونکي ملا لهپاره، له پنځو تر شلو روپيو څخه بايد ډېرې ورنکړل شي. (۴: ۱۷ماده)

بله مسئله چې په نظامنامه کې په پام کې نيول شوې وه، هغه د جبر نکاح وه. ځينې وختونه ملا پرته له دې چې د جبر په نکاح کې د ناکح او منکوحې رضايت او خوښې په پام کې ونيسي، د دواړو لوريو ترمنځ نکاح تړي چې د رضايت د نشتوالي له امله نکاح نه کيږي. نکاح يو عقد دی او مدني قانون عقد دارنګه تعريفوي: عقد، د عقد کوونکي د دواړو خواوو څخه د يوه د ايجاب ارتباط دی د بلې خوا د قبلولو سره، خو د قانون د حکمونو په حدودود کې (۵: ۴۹۷ماده، لومړۍ فقره). په پورته ماده کې د دواړو خواوو رضايت او توافق روښانه شوی دی چې د عقد اصل او منشاء ګڼل کيږي. د نکاح، واده او سنتګرۍ په نظامنامه کې د نکاح رضايت تر بحث لاندې نيول شوی و، هغه مهال که کوم ملا دا ډول نکاح وتړله، يعنې د ناکح يا منکوحې له رضايت پرته نکاح وتړل شوه، دا ډول نکاح جبري نکاح ګڼله کېده او ملا ته يې تعزيري مجازات ورکول. د نظامنامې ۱۸مه ماده په دې اړه داسې حکم کوي «د بالغ ناکح او منکوحې له رضايت يا خوښې پرته، که چا يو څوک بل ته په جبر ورکړه، جابر ګڼل کيږي او نکاح تړونکي ملا ته تعزيري مجازات ورکول کيږي». (۴: ۱۸ماده)

د نظامنامې په وروستۍ برخه کې بيا د تعزيري مجازاتو يادونه شوې چې په نائب الحکومتونو او اعلی حکومتونو کې يې د کوتوالۍ قضاة ته واک سپارلی چې دوی دې بايد د تعزيري مجازاتو اړوندې پرېکړې اجراء کړي. د تعزيري مجازاتو اندازه او حد په نظامنامه کې نه دی مشخص شوی، بلکې قاضي ته يې صلاحيت ورکړی چې هره اندازه مجازات ورته مناسب وبرېښېدل، هماغومره تعزيري مجازات دې ورباندې وضع کړي.

**لسم- د نکريزو شپه او وليمه**

له نکاح څخه دمخه يوه شپه د هلک او جنۍ خپلوان جنۍ او هلک ته نکريزي وړي. له دې وروسته بيا نکاح ترل کيږي او ډولۍ راوړي، چې له ډولۍ وروسته بيا د هلک کورنۍ مېلمنو ته د خوراک او ډوډۍ چمتووالی کوي. په ځينو سيمو کې وليمه د نکريزو په شپه، په ځينو سيمو کې له نکاح څخه دمخه او په ځينو

سیمو کې بیا له نکاح وروسته ولیمه ورکول کیږي. د نکریزو پر شپه د ولیمې برابرولو په اړه هم نظامنامه احکام لري. په ټوله کې دا ډول ولیمه منع نه ده گرځول شوې، خو شرط یې ایښی چې باید نوموړې ولیمه د ناکح په خوښه وي او جبراً ورباندې نه وي ایښودل شوې. همدارنگه د مېوې او شیرینۍ حد یې هم ټاکلی او د خوراک له اندازې څخه یې زیاته خوړه او مېوه منع کړې ده. ددې ترڅنگ د مېوې او شیرینۍ په اړه جالبه خبره دا ده چې باید څوک یې کور ته له ځانه سره یونه‌سي. د نظامنامې په ۱۶مه ماده کې په دې اړه راغلي «که د نکریزو په شپه ناکح په خپله خوښه د نکاح د ولیمې په ډول کوم مجلس برابرولو، ممانعت ورته نشته. خو خوړه او مېوه دې د خوراک له اندازې زیاته نه وي او مېلمانه دې له ځان سره کورونو ته نه وړي». (۴: ۱۶ماده)

**پایله**

افغانستان له نن څخه سل کاله وړاندې، د هغه وخت د شرایطو او اوضاع مطابق د غوره او ښو قوانینو لرونکی و چې په سیمه کې بې ساری گڼل کیږي. د هغه وخت اصول او مقررات چې د نظامنامو په چوکاټ کې راټول شوي وو، د اسلامي شریعت د احکامو مطابق راټول شوي وو او د حنفي مذهب له فقهې سره سم وو.

له بده مرغه د واده او کوژدې د لگښتونو په اړه له پخوا راهیسې په افغانستان کې له حده ډېر لگښتونه او مصارف وو، خو له نېکه مرغه غازي امان الله خان یې د مهارولو نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي.

امان الله خان ددې ترڅنگ چې د خپلواکۍ اتل گڼل کیږي او له بهرنیو هېوادونو سره یې په نوې بڼه اړیکې جوړې کړې، په هېواد کې پیاوړو اصلاحاتو او سمونونو ته ژمن و او هڅه یې دا وه چې په افغاني ټولنه کې نظم او ډسپلین وي او قوانین حاکم وي.

**وړاندیزونه**

اوسنیو لگښتونو او مصارفو او دغه راز ولور ته په کتو، دولت ته وړاندیز کیږي چې په دې اړه د غازي امان الله خان د وخت له تجاربو گټه واخلي او دا ډول مصارف د قوانینو له لارې کنټرول کړي.

عدلیې وزارت ته وړاندیز دی چې تر ممکنه بریده د کورنۍ قانون مسوده نهایي کړي چې نور پړاونه ووهي.

ددې ترڅنگ عدلیې وزارت ته وړاندیز دی چې د بې‌ځایه لگښتونو د مخنیوي په له‌پاره د واده قانون په رسمي جریده کې خپور کړي چې خلک یې له موادو خبر شي.

..........................................................................................................

**مأخذونه**


۱. قرانکریم

۲. د قرآن کریم ترجمه او تفسیر په پښتو ژبه کښې، ړومبی جلد له ۱ تر ۱۵ پارې پورې، د حرمینو شریفینو د خادم پادشاه فهد د قرآن کریم د طباعت لپاره: ...

۳. افغانستان. د جزا کوډ، د عدلیې وزارت، کابل، ۱۳۹۶

۴. افغانستان. د نکاح، واده او سنتګرۍ نظامنامه، کابل ماشینخانه «شرکت رفیق» مطبعه: کابل، ۱۳۰۶.

۵. افغانستان. مدني قانون، عدلیې وزارت، کابل، ۱۳۸۸

۶. بي بي سي. په افغانستان کې د «واده مراسمو» جنجالي قانون ومنل شول «۱۳۹۷/۱/۱۶». دلته یې لیدلی شئ: https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-43657621 د لاسرسي نېټه: [۱۳۹۸/۳/۵]

۷. د افغانستان، احسان الله، «اماني دوره- د افغاني رنسان دوره»، ژباړن: محمد اکبر وردګ، غازي امان الله خان د افغانستان د خپلواکۍ ستوری، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۸۴.

۸. عثمان، محمد اکرم. «اقدامات شاه امان الله خان در زمینه اصلاحات اجتماعي و عکس العمل های مردم»، غازي امان الله خان د افغانستان د خپلواکۍ ستوری، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۸۴.

۹. عدالتخواه، عبدالقادر. حقوق فامیل، چاپ سوم، جلد دوم، انتشارات بین‌المللي سرور سعادت: ۱۳۹۶.

۱۰. کرګر، محمد اکبر. «غازي امان الله خان او مدرنیزم»، غازي امان الله خان د افغانستان د خپلواکۍ ستوری، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور،۱۳۸۴

۱۱. نایل، عبدالقادر. حقوق فامیل در فقه و قانون، لومړی ټوک، دوهم چاپ، انشتارات تمدن شرق: کابل، ۱۳۹۶.

۱۲. هېواددوست، یوسف. «فرهنګي شاه امان الله»، غازي امان الله خان د افغانستان د خپلواکۍ ستوری، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۸۴.